مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۰۸/۲۶

# پوښتنه، پوهیدنه

پوښتنه مې کوله، چې انسان که شـــی وحشـــي
غوښتل مې وپوهیږم، چې حیوان نو څه ته وایی؟

پوښتنه مې کوله، چي وی خـوښ په دی مرګونو
غوښتل مې و پوهیږم، چې رحمان نو څه ته وایی؟

پوښـــتنه مــې کوله، که وی میــنه بیـــمانـــــي ۱
غوښتل مې و پوهیـږم، چې ایمان نو څه ته وایی؟

پوښـــتنه مې کوله، لاس نیــوی که وی حــرام
غوښـتل مې و پوهیږم، چې احسان نو څه ته وایي؟

پوښـــتنه مې کـوله، که وي بـرخــې ازلـــي
په ورځې د محشـــر کی، امتحــان نو څه ته وایی؟

پوښـــتنه مې کـوله، که جنـت په مـزدوری وي
غوښتل مې و پوهیږم، مهـربان نو څه نه وایی؟

---

۱ – بیماني = بی ایماني

مارچ/۲۲/۲۰۱۵
تورنتو - کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ